نړیوال بانک
له بې وسۍ، فقر او غربت څخه ژغورلې
نړۍ ته د رسیدلو لپاره هلې ځلې

د ۱۳۸۸ کال د سلواغي میاشت (فبروری ۲۰۱۰)

# په افغانستان کي د نړیوال بانک ګروپ د فعالیتونو په هلکه لنډ معلومات

## د افغانستان په هکله لنډ معلومات:

افغانستان له درې لسیزو جګړو او شخړو وروسته له ۲۰۰۲م کال څخه راپدې خوا ددویم ځل له پاره په نړیواله اجنداء کې مطرح شو،چې په دغه موده کې دفوق العاده سیاسي،اقتصادي او ټولنیزو بدلونونو شاهد دی. فوق العاده زیات پرمختګونه شوي دي،خو اوس هم لاستر چیلنجونه او خنډونه پخپل حال پاتي دي.

د کرنې سکټورتقریبا دافغانستان دټولوناخالصوداخلي عوایدو په سلو کې ۳۰جوړوي .مقدماتي وړاندوینې څرګندوي چې په کرنیزو حاصلاتو کې دنسبت زیاتوالي په ۱۳۸۸ کال د داخلي نا خالصوعوایدو اندازه هم په سلو کې شاوخوا۱۵زیاتوالی مومي. دا چې په ۱۳۸۸ کال کې کرنیزو محصولاتو کمښت مونډلی،داخلي ناخالص عوایدتحمینا په سلو کې ۲،۳ په دې کلونو کې کم شوی دی. سره له دې چې ناخالص سرانه عواید له ۲۰۰۲میلادي کال څخه راپه دې خوادوه برابره زیات شوي دي .خو ناخالص داخلي سرانه عواید په ۲۰۰۸ میلادي کال کې تقریبا ٤۲٦ډالره پاتي دي ،چې اوس هم افغانستان دنړۍ یو ډیر غریب هیواد ګڼل کیږي. په ښوو نځیو کې دزده کوونکو شمولیت له ۲۰۰۲میلادي کال څخه راپه دې خوا دکتني وړ زیاتوالی مونډلی دی ،چې دادافغانستان په تاریخ کي ساری نه لري ، خو د دغو ښوو نځیو یوازې په سلو کې ٤۰یې ودانی لري .

تقریباً په سلوکې ۸۵ وګړي اوس لومړنیو روغتیایي خدمتونو ته لاس رسی لري. د ۱۳۸۷ لمریز کال له پاره دخطر او زیان منني ملي ګزارش له پنځو کلونو څخه دراښکته عمر لرونکو ماشومانو او نویو زیږیدلو دمړیني دکمښت په برخه کې دکتني وړ پرمختګ څرګندوی دی.له پنځو کلونو څخه دراښکته عمر لرونکو او نویو زیږیدلو ماشومانو د مړیني اندازه په ۲۰۰۸ م کال کې ۱۱۱(په سلو کې له ۱۳کموالی سره) او۱٦۱(په سلو کې له ۱۵کموالی سره) دمړیني په زرو پیښو کې د۱۲۹او۱۹۱دمړینو پیښو په پرتله په ۲۰۰٦میلادي کال کې کمښت مونډلی دی. له ۲۰۰۳میلادي کال څخه راپدې خوا روغتیایي مرکزونه تقریباً درې برابره،یعني له ۱٤۸څخه د ۲۰۰۹ میلادي کال ترنیمایي پورې ۱،٦٤ تنو ته زیاتوالی مونډلی دی.

د ژوند دهیلي منځنۍ کچه ٤۳ کاله ده، په داسي حال کې چې دنړۍ نورو هیوادونو دټیټ عاید او ګټي وټي لرونکو دعمر منځنۍ کچه ۵۹ کاله ده. سربیره پردې یوازې په سلو کې ۱۳ افغانان د ښځنلو روغتیایي اوبو او په سلو کې ۱۲ یې کافي روغتیا ساتني ته لاس رسي لري.

### د روغتیا د سکتور پرمختیایي شاخصونه

په هرو ۱۰۰۰ ژوندیو زیږونوکي، د نوزادانو د مړیني اندازه: په ۲۰۰٦م کال کې له ۱۲۹ څخه، په ۲۰۰۸م کال کې ۱۱۱ ته کمښت مونډلی دی.

په هرو ۱۰۰۰ ژوندیو زیږونوکي،له پنځه کلنۍ څخه دراښکته عمرلرونکو دمړیني اندازه: په ۲۰۰٦م کال کې له ۱۹۱ څخه، په ۲۰۰۸م کال کې ۱٦۱ ته کمښت مونډلی دی.

د ښځو له زیږون څخه د مخه د ساتني زیاتوالی امیدواره (حامله) په ۲۰۰٤میلادي کال کې په سلوکي له ۱۱څخه په ۲۰۰۸ میلادي کال کې په سلو کې ٤۹

د ماشومانو په واکسینولو کي زیاتوالی: په ۲۰۰۵میلادي کال کې په سلو کې له ۱۲ څخه په ۲۰۰۸ میلادي کال کې په سلو کې ۳۳

بریښنا ته دافغانستان دخلکو لاس رسی، په نړۍ کې له ډیرې ټیټې کچې او اندازې څخه برخمن دی. دغه حالت په کابل کې له ازبکستان څخه دبریښنا په واردیدلو او دبریښنا د دوو بندونو، ماهیپر او سروبي په بیارغونه، چې یوه برخه یې بشپړه شوې ده، دکتني ور ښه والی موندلی دی. له ازبکستان څخه کابل ته دبریښنا لیږدوني نوې وارداتي منبع په شمال ختیځو ولایتونو مرکزونو کې، چې دمزارشریف او کابل دلارې په اوږدو کې پراته دي، دبریښنا مزي غځیدلي دي. اوس شاوخوا ۲۵۰۰۰۰ کورنۍ دبریښنا دښارې شبکو له لارې دبریښنا له انرژې څخه په دایمنه توګه استفاده کوي.

د ۲۰۱۰ میلادي کال دجنوري په ۲۸نیټه دافغانستان په اړه دلندن په ښارکې نړیوال کنفرانس جوړ شو. په دې کنفرانس کې دشاوخوا ۷۰هیوادونو او نړیوالو سازمانونو استازیو ګډون کړی و،نوموړی کنفرانس پخپله دافغانانو په وسیله دچارو رهبري کول او سمبالول،نړیوالې او سیمه ییزې همکاری او نړیوال مشارکت په هکله جوړ شوی و. دنړیوال بانك دګروپ دعمومي رئیس مرستیالې میرمن انګوزی او کنجو-ایویلا، په دې کنفرانس کې وینا وکړه. دمیرمن انګوزي وینا په دې لاندې درېیو پرمختیایي ټکیو ولاړ وه:

- نړیواله ټولنه باید دحکومتدارۍ په پیاوړتیا، دافغانانو ځواکمن کولو او پخپله دافغانانو په وسیله دپرمختیا پروګرامونو په مالکیت، زیاتره په ترلاسه شویو لاسته راوړنو باندې پانګې اچونې ته دوام ورکړي.
- نړیواله ټولنه باید خامخا دحساب ورکولو دبهیر دښه والي له پاره له کړنو څخه ملاتړ ته دوام ورکړي او خپلې زیاتره مرستې باید دملي بودجې له لارې ولګوي.
- نړیواله ټولنه باید خامخا دلاسته راوړنو پایښت او دوام ته خپله زیاته پاملرنه ور واړوي، ترڅو چې دنن ورځې لګښتونه اومصارف دافغانستان راتلونکي ودې او پرمختیا ته زیان ونه رسوي.

د میرمن انګوزي دوینا بشپړمتن ته په دې لاندې انټرنیټي پاڼه کې مراجعه وکړئ:
http://worldbank.org/5FDOYMINMO

د لندن کنفرانس په تعقیب دافغانستان دولت او نړیوال بانك دافغانستان دبیارغونې د صندوق دتمویلوونکو غونډه جوړه کړه. په نوموړې غونډه کې داموافقه وشوه چې د تخمیناً ۶،۲میلیاردو امریکایي ډالرو بودیجوي تخصیص د ۲۰۱۰ څخه تر ۲۰۱۳م کلونو پورې موده کې دافغانستان ددولت دروښانه او شفافي تګلارې (ستراتیژی) په اساس لګښت ومومي. نوموړی مبلغ ددرې کالو په اوږدو کې په لاس رسۍ وړ وجهو اوپانګو کې په سلو کې ۳۲زیاتوالی څرګندوي او منعکس کوونکي دي. تمویلوونکي او دافغانستان دولت دواړو تائید کړه چې دژمنه شویو مرستو داجراء میکانیزم دافغانستان دحکومت له لارې ، په اوسنیو شرایطو کې له افغانستان سره دمرستو دهمغږۍ له پاره په یوازینۍ مهمې وسیلې تبدیل شوی دی. دزیاتو معلوماتو له پاره لطفاً دې لاندې انټرنیټي پاڼې ته مراجعه وکړئ: http://worldbank.org/VOGLV5H370

**نړیوال بانك او افغانستان:**

افغانستان په ۱۹۵۵م کال دنړیوال بانك غړیتوب ترلاسه کړ. په ۱۹۷۹م کال دوخت دشوروي دځواکونو له یرغل څخه وروسته په افغانستان کې دنړیوال بانك فعالیتونه وځنډول شول،خو بانك له افغانانو سره خپلې مرستې ته په ګاونډي هیواد پاکستان کې ددغه بانك ددفتر له لارې دوام ورکړ.په افغانستان کې نړیوال بانك خپلې مرستې د ۲۰۰۲م کال دمی په میاشت کې نوی پیل کړې، ترڅو له ډیرو بیوزلو وګړو سره په بیرنیو مرستو سره دهغوی اړتیاوې پوره کړای شي،په داسې حال کې چې دهیواد په کچه له دولت سره دادارې سیستم په اوږدمهاله پرمختیا کې مرستو ایجاب او غوښتنه هم کوله.

نړیوال بانك ۲۱ پروژې په بیلا بیلو برخو لکه: ښوونه او روزونه، سړك جوړونه او کرنه کې د بې ګټې پورونو (کریډټ) له لارې افغانستان ته له ۱۹۷۹ م کال څخه د مخه برابرې کړې وې، چې ۲۳۰ میلیون ډالره کریډټ له جملې څخه چې د نړیوال بانك د پرمختیایي ادارې له لارې افغانستان ته تصویب شوی وې ۸۳ میلیونه ډالره یې تر ۱۹۷۹ کال پورې ورکړل شوي وو، خو ۱۴۷ میلیونه امریکایي ډالره یې ورسته فسخه شول.  افغانستان بې ګټې پورونو د بیا ورکړې له بابته د ۱۹۹۲م کال د جون تر میاشتې پورې بیرته ورکړل، خو وروسته له هغه چې د وخت دولت ونشوکړای پاتې پورونه ورکړي، پوروړي پاتې شو.

په ۲۰۰۳م کال کې افغانستان دجاپان، انګلستان، سویډن، ناروې او ایټالیا په مرسته وکړای شول دخپلو پورونو یوه برخه ورکړي. پاتي وجهې د افغانستان د بیارغوني د صندوق (ARTF) له لارې،چې د نړیوال بانك ترادارې لاندې کار کوي، ورکړل شوې، چې په نتیجه کې افغانستان دخپلو ودانیزو،بیارغوني او پرمختیایي پروژو له پاره دبې ګټې پورونو(کریډیټ) دترلاسه کولو دشرایطو لرونکی شو.

د ۲۰۱۰م کال د جنورې په ۲۶نیټه دنړیوال بانك دنړیوالي پرمختیا ادارې او دپیسو نړیوال وجهې صندوق موافقه وکړه، چې دافغانستان اسلامي جمهوري دولت ۱،۶میلیارده امریکایي ډالر پورونه لغوه کړي. ددغو دواړو نړیوالو مالي ادارو دمدیره هئیت بورډ موافقه وکړه چې دافغانستان دولت لازمې کړنې ترلاس لاندې نیولې دي، چې دډیرو غریبو او پوروړو هیوادونو سره دمرستې دپروګرام دبشپړتیا پړاو ته ورسوي. افغانستان اووه ویشتم هیواد دی چې ددې پروګرام پړاوونه یې دبشپړتیا ټکي او نقطې ته رسیدلي دي. دغه دسپما او صرفه جویې موضوع د ۱،۶میلیارده لغوه شوي پور له جملې څخه ۱،۳ میلیارد ډالرپې د ډیرو بیوزلو ،غریبو او پوروړو هیوادونو سره دمرستې دپروګرام دپړاوو دبشپړولو په نتیجه کې،همدارنګه ۲۶۰میلیونه ډالر پورونه دپاریس دغونډې (پاریس کلب) دهیوادونو او پاتې نور ۳۸،۴میلیونه ډالر یې دڅو اړخیزه پورونو درفع کولو دپروګرام له لارې ترسره شوي دي. دزیاتو معلوماتو دترلاسه کولو له پاره دې لاندې انټرنیټي پاڼې ته راجعه وکړئ: http://go.worldbank.org/26C2P91owo

د افغانستان د بیارغوني صندوق، چې د ۳۱ تمویلوونکو له خوا تمویلیږي، په ۲۰۰۲میلادي کال کې د تاسیس له لومړیو څخه تراوسه له ۳،٦ میلیاردو امریکایي ډالرو څخه زیات راټول کړي دي، اوپه اوس وخت کې د افغانستان د دولت د لومړیتوبونو او د پرمختیایي پروګرامونو د سترې تمویلونکې وسیلې په توګه راڅرګند شوی دی. دغه صندوق د افغانستان د بیارغوني له پاره دافغانستان د دولت اونړیوالې ټولنې تر منځ د ګډو هلو ځلو او مرستو له پاره یوازینۍ وسیله ګڼل کیږي. له ملي پروګرامونوڅخه د دغه صندوق ملاتړ، لکه له کرنې، د کلیو پرمختیا، قضایي سکټور، خصوصي سکټور، د ظرفیتونو وده او لوړاوی، پوهنه، ښاري پرمختیا، ترانسپورت او د بریښنا انرژي، د دولت د اجنډا په لو مړیتو ب کې واقع دي، اوهمدارنګه د دولت د عادي بودیجې او د دولت په پالیسۍ کې د اصلاحاتو د اجنډا له پاره د افغانستان د ملي پرمختیاد تګلارې هدفونو ته په رسیدو کې فوق لعاده ونده لري. له ۲۰۰۲ میلادي کال څخه راپدې خوا (۳۱) تمویلوونکو د ۲۰۰۹ میلادي کال د ډسمبرتر ۲۱ نیټې پورې له ۳،٦ میلیاردو ډالروڅخه زیات له دې صندوق سره ژمنه کړې ده. تر اوسه پورې د هغو ۱،۹میلیارده ډالرد دولت له عادي بو دیجې څخه د ملاتړله پاره، چې پکې د ملکي مامورینو معاشونه شامل دي او ۱،۲میلیارده ډالر نور د دولت د پرمختیایي پروژو د تمویل له پاره ورکړل شوي دي .

نړیوال بانك له ۱،۹ میلیاردو امریکایي ډالرو څخه زیات د ۲۰۰۲م کال د اپریل له میاشتې راهیسې په افغانستان کې د بیارغوني او پرمختیا په پروژو اوله څلورو بودجوي ملاتړ کوونکو فعالیتونو سره ژمنه کړې ده. په دې شمیر کې ۱،٤٦ میلیارد امریکایي ډالره وړیا مرسته او٤٣٦،٤ میلیونه امریکایي ډالره دبې ګټې پورونو (کریډیټ) په توګه شامل دي. نړیوال بانك په افغانستان کې ۲۶ فعالې پروژې لري، چې خالصې ژمنې او تعهدات یې له یو میلیارد امریکایي ډالرو څخه زیات وو. تراوسه د نړیوال بانک ترتمویل لاندې یو شمیر پروژې بشپړې شوي دي، چې په هغو کې د ښووني او روزنې د بیارغوني، عامه بیړنۍ ټول ګټې پروژې ، د ترانسپورت د بیارغوني او د زیربناوودبیارغوني او همدارنګه دروغتیا دسکټور بیارغونه او د عامه ادارې دپروژې لومړی پړاو اوهمدارنګه څلور بودجوي فعالیتونه شامل دي. د بشپړوشویوپروژو په هکله دزیاتو معلوماتوله پاره دې د لاندني سایټ د پروژو او پروګرامونو مخ ته مراجعه وشي. www.world bank.org.af

نړیواله مالي اداره، د نړیوال بانك ګروپ د خصوصي سکټور برخه، په افغانستان کې دېخوا په شان دپانګې اچونې په برخه کې خپل ملاتړ ته دوام ورکوي. په اوس وخت کې دغه اداره په شپږو کمپنیو کې ونده لري، چې دهغې ټوله پانګه له ۹۰ میلیونه ډالرو څخه زیاته ده. دغه ونډې په مالي برخو کې(په افغانستان دکوچنیو پورونو لومړني بانك ، برك افغانستان بانك، دافغانستان بانك)،مخابراتي (دافغانستان ام تي ان مخابراتي شرکت) میلمه پالنه (دکابل سرینا هوټل) او روغتیایي (داکومیت فامیلي روغتون ) پانګه اچونه شوې ده. همدارنګه دغه اداره په بیلابیلو سکټورونو کې دخپلو مجموعي پروژو په لاره کې خپلو هلوځلو ته دوام ورکوي،ترڅو په افغانستان کې دپانګې اچونې اندازه زیاته شي. د نړیوالې مالي ادارې مشورتي خدمتونه د افغانستان د کوچنیو او منځنیو شرکتونو وده او پرمختیا د سوداګریزې ادارې او دسوداګریزو د (تجارتي) مهارتونو د زده کړې پروګرام له لارې د ۲۰۰۹میلادي کال د جون په میاشت کې په افغانستان کې ترسره شو، مرسته او ملاتړ کوي. د ۲۰۰۹میلادي کال دډسمبر دمیاشتې په اوږدو کې دافغانستان له پاره د دزده کړې درېو معتبرو او

باوري ادارو د ښوونکي او روزونکي د ظرفيت د لوړولو په ورکشاپونو کې، چې نړيوالي مالي اداري داړوندو سوداګريزو پروګرامونو د ښوونکو له خوا دايرشوي وو، ګډون وکړ.

**د نړيوال بانك تګلاره (ستراتيژي):**

په افغانستان کې د نړيوال بانک ټول پروګرامونه " د افغانستان له پاره د نړیوال بانک د مؤقتي تګلارې" سره په سمون او رڼاکي طرحه او تطبيقيږي. د نړيوال بانک د مؤقتي تګلارې سند د افغانستان د ملي پرمختيايي تګلارې سره په سمون او مطابقت کې دی او د مخکينی تګلاری ۲۰۰۶ – ۲۰۰۸ (۱۳۸۵ – ۱۳۸۷ لمريز) له سند سره هومره توپير نه لري، خو په دې نوې تګلارې کې زيات ټينګار د هغو پروګرامونو پر ملاتړ شوی، چې د هغو په نتيجه کې په ټول هيواد کې د ميليونونو افغانانو ژوند ښه والی موندلی دی. په دغو پروګرامونوکې: د روغتيا، ښوونې او روزنې، د کليوپرمختيا او ملی مالي ادارې د مديريت برخې شاملې دي. د نړيوال بانک په نوې مؤقته تګلاره کې، چې د ۱۳۸۸ – ۱۳۹۰ لمريز کلونو له پاره، ۶۰۰ ميليونه امريکايي ډالره وړيا مرسته په پام کې نيول شوې ده.

د پاريس په کنفرانس کې،چې په ۲۰۰۸م کال دجون په مياشت کې جوړ شو، نړيوال بانك خپله د ۱،۱ ميليون امريکايي ډالرو پنځه کلنه ژمنه (تقريباًپه کال کې ۲۲۰ميليون امريکايي ډالره) کړې ده، چې ددې هيواد دفعاليت دپرتلنې غوښتنه دجګړې څخه وروسته له نورو هيوادونو سره ده او همدارنګه په ۲۰۱۱م کال کې دمرستندويه منابعو IDA په ژمنو پورې تړاو لري.

هغه عمده برخې چې د مؤقتي تګلارې په وسيله يې ملاتړ کيږی پکې: د پوره لاس رسی وړ او با کيفيته خدمتونو وړاندې کولو په منظور د حساب ورکولو او ظرفيت لوړتيا، د کليوال ژوند ښه والی، د کليوال اقتصاد وده او پرمختيا او خصوصی رسمی نوي او رقابتی سکټور له ودې څخه ملاتړ شامل دی.

**لاسته راوړنې:**

**له ۶،۳ ميليونو څخه زيات ښوونکي اوزده کوونکي له ۲۰۰۲م کال راهيسې ښوونځيو ته ورګرځيدلي دي**، په داسې حال کې چې نړيوال بانك دلومړنيو ښوونځيو له بيارغونې او دښوونکي له روزنې سره مرسته کړې او دپوهنې او لوړو زده کړو له وزارتونو سره تخنيکي مرستې کوي.نړيوال بانك پروګرام دتعليمي کيفيت دښه والي (EQUIP) دښوونځيو شوراګانې دښوونځيو دودانيو دجوړولو او بيارغونې تدريسي او دزده کړې موادو دلاس رسی د چارو دڅارنې له پاره تمويلوي. دغه شوراګانې اوس په ټول افغانستان کې ۱۱۰۰۰ښوونځيو له جملې له ۹۵۲۴ څخه په زياتو ښوونځيو کې فعاليت کوي. په ۲۰۱۲ميلادي کال کې ددې پروګرام په پای ته رسيدو سره به له ۱۵۷۵څخه زيات نوي ښوونځې جوړشي، چې د نجونو ښوونځيو ته به پکې لومړيتوب ورکړل شي. له ۱۹۹۹څخه زياتې دښوونځيو نوې شوراګانې به رامينځته او له ۱۱۰۰۰۰ څخه زيات ښوونکي به له داخل خدمت زده کړی څخه ګټه واخلي، دښوونځيو ۹۰۰ تنه اداري کارکوونکی به لازمې زده کړې ترلاسه او ۲۷۵۰تنه نجونې به دهيواد په ۲۵ولايتونو کې دسکالرشپ په اساس دښوونکي دروزنې ددوه کلن کورس له بشپړولو وروسته له تدريسي ځواك سره يوځای او ۷۵۰تنه لکچر ورکوونکي به په ۱۸ولايتونو کې استخدام شي. د اساسي فعاليتونو د سيستم د رغونې له پاره په مرکز او ولايتونو کې د پنځو پوهنتونود ګډې همکاری موافقه ليکونه له ۱۱بهرنيوپوهنتونوسره لاسليک اوعملي کيږي.

د نړيوال بانك دهمکارۍ له امله دهيواد په ۱۸ولايتونو کې له ۲۰۰۳ميلادي کال څخه راپدې خوا روغتيايي مرکزونه تقريباً درې برابره، يعنې له ۱۴۸څخه د ۲۰۰۹ ميلادي کال ترنيمايي پورې ۱،۶۴ تنو ته زياتوالی موندلی دی. د اميدوارو ميندو، چې لږ ترلږه يو ځل يې له روغتيايي خدمتونو او څارنې څخه استفاده کړې، په ۲۰۰۴ميلادي کال کې په سلوکې له ۱۱ څخه په ۲۰۰۸ميلادي کال په سلو کې ۴۹زياتوالی موندلی دی. که څه هم دماشومانو مصؤنيت (واکسين) اندازه اوس هم ټيټه ده، له دې سره سره يې په ۲۰۰۵ميلادي کال کې په سلو کې له ۱۲څخه په ۲۰۰۸ ميلادي کال کې ۳۳وده موندلې ده. شاوخوا ۲۰۰۰۰ سيمه ييزو روغتيايي کارکوونکو ، چې نيمايي يې ښځې تشکيلوي ، زده کړه ليدلې او په ټول هيواد کې په کار ګومارل شوې دي، چې دا کار دکورنی پلان جوړنې ته دلاس رسی دښه والي او دکوچنيوالی د دورې دواکسين دزياتوالی سبب شوی دی. دښځينه روغتيايي زده کړو لرونکو روغتيايي مرکزونو شمير د پروژې له تطبيق څخه دمخه په سلوکې له ۲۵ څخه اوس په سلوکې ۷۴ته زياتوالی موندلی دی.

**د ملي پيوستون پروګرام** په ټول هيواد کې دکاري فرصتونو درامنځته کولو او دزيربنا دښه کولو له پاره مهمه وسيله ګڼل کيږي. نړيوال بانك دملي پيوستون دپروګرام له مهمو تمويلونکو منابعو څخه دی. ددې پروګرام له لارې، چې سيمه ييزې پروژې دسيمې دخلکو له خوا دلومړيتوب بندۍ په اساس پيژندل کيږي، تمويليږي.دغه پروګرام دهيواد په ټولو ۳۴ ولايتونو کې په ۲۲۰۰۰ کليو کې له ۵۰۷۷۸ څخه زياتې پروژې تمويل کړي دي.په سلوکې ۸۰ پروژې په زيربنايي ساحو، لکه:اوبه لګول،کليوالي سرکونه،بريښنا او دښځو اوبه برابرول دي، چې دغه ټولې پروژې دکليوال اقتصاد دښه والي له پاره ډير اهميت لري. له دې پروژو څخه له نيمايي نه زياتې يې بشپړې شوې دي.

**کليوالو سرکونو ته دلاس رسي ملي پروګرام** دهيواد ټولو کليوالو ساحو ته دکال په ټولو موسمونو کې دلاس رسۍ دتامين له پاره تطبيق کيږي. له ۱۱۰۰۰ کيلومتر څخه اوږد سرک څخه ملاتړ کړی دی چې افغاني کارګرانو لخوا جوړ او ګټه اخيستنې ته سپارل شوی دی. نوموړې پروژه له ۲۷۰۰۰ څخه زيات کلي يې د بازار سره تړلي دي او د خلکو لپاره يې د کار د پام وړ زمينه برابره کړې ده.

**د کوچنيو پورونو دپايښت او ښه والي دخدمتونو دپراختيا پروژه**،په ۶ کالو کې مجموعاً ۱،۴ ميليونه امريکايي ډالره پورونه په ټول افغانستان کې د ۷۰۱ ميليونه امريکايي ډالرو په مجموعي ارزښت برابر کړي دي. دکوچنيو پورونو ۱۵ اداري او مرکزونه له ۳۰۹ څخه زياتو ساحوي دفترونو له شبکو سره له ۴۴۲۰۰۰ څخه دزياتو مشتريانو په لرلوسره، چې ډيور او سپما حسابونه لري، دهيواد په ۲۷ ولايتونو کې فعاليت کوي. په سلوکې ۶۱ مشتريان ښځې دي او دبيرته ورکړې اندازه په سلوکې ۹۴ ده. اوس تقريباً ۴۱۵۹ تنه په دې سکتور کې په کار بوخت دي، چې له نيمايي څخه زيات مديريتونه يې دافغانانو په واسطه نيول شوي دي. په ۲۰۰۷م کال دسروې له مخې هرپور ۱،۵برابره د کار لارې چارې برابروي، نو په همدې اساس په افغانستان کې له ۶۵۰۰۰۰ څخه زياتې دندې دهمدې سکټور له لارې رامنځته شوي دي او زيات شمير وګړو په تيرو کلونو کې له دې پروګرام څخه ګټه اخيستې ده.

**د ګمرکي اتومات اطلاعاتي سيستم (اسيکوډا)** دتطبيق له وخت څخه دافغانستان په ټولو بندرونو کې دګمرکي ماليو راټولو ښه والی موندلی او ګمرکي عوايد په ۱۳۸۷لمريز کال تقريباً په سلو کې ۷۰۰ زياتوالی موندلی دی. دګمرکي ماليو په راټولولو کې دغه زياتوالی دبندرونو په کمپيوټري کولو دواردات‌ي او صادراتي اقلامو، د تشريح په وخت کې زيات کنټرول او دګمرکونو درياست دکارکوونکو دکاري وړتيا دودې له امله دی. تراوسه پورې دګمرکونو پروسيجرونه په ټولو اړوندو رياستونو کې، دکابل دهوايي ډګر دګمرک په شمول،چې تقريباً په دې هيواد کې په سلو کې ۵۵ګمرکي اظهار نامې صادروي، په اتومات يا خپل کاري سيستم تبديل شوي دي . همدارنګه اسکوډا سيستم په ټولو څلورو کليدي بندرونو کې، چې تقريباً په سلو کې ۶۵دافغانستان صادرات او واردات جوړوي، نصب او فعال شوي دي.

**د دولت ارتباطي شبکه**، ديوې دولتي مخابراتي شبکې فعالول او نصبول، دانټرنيټ او صوتي مخابراتي خدمتونو دلرې واټن او نړيوال اتصال دلينونو په شمول، له ۳۰،۰۰۰ څخه زياتو حکومتي مامورينو ته په کابل او دافغانستان په ولايتونو کې لاس رسي تامينوي. له راډيوي طيف څخه په افغانستان کې دمناسبې استفادې دتامين له پاره دڅارنې نوی سيستم نصب او فعال شو.اوس دولايتونو ټول مرکزونه کولی شي له ولس مشر او وزيرانو سره په مصور ډول (ويډيو کنفرانس) خبرې وکړي. سربيره پردې دولايتو دواليانو دمخابراتو دشبکې له پاره ددولتي مخابراتي شبکې له زيربنا څخه استفاده کيږي.

د بريښنا دانرژۍ درغونې پروژې دکابل ښار داستوګنو له پاره دبريښنا تامين او دادمنو خدمتونو وړاندې کول برابرکړي دي. ددغو خدمتونو وړاندې کول دنوموړې پروژې له لارې دځو دستګاوو رغولو او فعالولو په وسيله ترسره شوي دي. دکابل او دشمال ختيځ دبريښنا دانتقال او ليږدوني سيستم د۱۱۰کيلوولټه شبکې اتصال، دشمال او دکابل دشمال لويديځ سب ستيشنونو په نوې رغونې سره ، د ۱۱۰کيلو ولټه مزي غځول، چې دنغلو او ماهيپر له بندونو څخه يې ښاري شبکې ته بريښنا رسولې ده، دنوري فايبر دلوړ ظرفيت لرونکي ځمکني لين غځول له چمتلې څخه ترپلخمري پورې دکابل له شمال ختيځ څخه دسيستم دليږدوني داسانتيا اوکنترول له پاره او دکابل دمنځني ولتاژ سيستم ديوې برخې نوې رغونه ده. دا کار دکابل ښاراستوګنو ته دښې بريښنا دوړاندې کولو لامل ګرځيدلی دی. او هغوی يې د ډيزلي جنراتورونو دلوړلګښت لرونکي بريښنا څخه ژغورلي دي. سربيره پردې دخيرخانې او احمد شاه بابا دمينې استوګنې دبريښنا له شبکې څخه په استفاده دبريښنا له نعمت څخه برخمن شوي دي.

د ۲۰۰۹م کال دسپتمبر په ۳۰نيټه په افغانستان کې دبريښنا وړاندې کولو مسووله اداره، د افغانستان دبريښنا مؤسسه، رسماً د افغانستان دبريښنا شرکت په نوم په يوې دولتي تصدۍ تبديله شوه. دغه بدلون دماليې، اوبو او انرژۍ ، اقتصاد او

دبښاري پرمختيا دوزارتونو ترمينځ دبين الوزارتي موافقي په اساس رامينځته شو.ددې موافقه ليك په اساس دپخوانی دافغانستان دبرېښنا مؤسسي ټول کارکوونکي او هم دهغې شتمنی او ملکيت عجالتاً دې نوي شرکت ته انتقال شول. د افغانستان دبرېښنا شرکت دبرېښنا دښواو غوره خدمتونو دبرابرولو ژمنه کړې او دبرېښنا د مصرفوونکو دخدمتونو دمرکزونو رامينځته کول يې دستونزو او مشکلاتو دله منځه وړلو په منظور په غاړه اخيستي دي.

د نغلو دبرېښنا بند لومړنی توربين په دې وروستيو کې نوی رغول شوی او ترازمايښت او عملي کيدو لاندې واقع دی. په پام کې دي چې دغه توربين دروان ميلادي کا ل داپريل له مياشتي څخه ۲۵ميګاواټه برېښنا، دمخکي ۷ميګاواټوپه پرتله، توليد کړي.

د اوبو لګولو دسيستم درغوني دپروژې له لارې په ټول هيواد کې له ۶۳۷۱۱۰ څخه زياتي کورنی دخپلو کروندودخړوبولو له پاره ډاډمنو اوبو ته لاس رسي پيدا کړي ده. تراوسه پورې د۶۳۹۱۰۱هکتاره ځمکي ته داوبو لګولو خدمتونه برابر کړل شوي دي.چي دا کار دهغې ۱۲۷۱۱۳هکتاره ځمکي له پاره داوبو لګولو دخدمتونو دوړاندې کولو سبب شوي، چې دمخه دابولګولو له سيستم سره نه وه وصل شوې. دترلاسه شويو معلوماتوپه اساس داوبو لګولو د سيستمونو بيارغونه دغنمو،جوارو، وريجو او هم دپيازو، خټکيو او هندوانو دحاصلاتو دزياتوالي سبب شوې ده. تراوسه پورې داوبو لګولو د ۶۱۱کوچنيو،منځنيو اولويو پروژو بيارغونه دهيواد په بيلابيلوبرخو کې بشپړه شوې ده او ټول ۱۰۵دهوا پيژندني سټيشنونه تراوسه پورې دپنځو سترو سيندونو دغاړو په بيلابيلو برخو کې رامنځته شوي دي دغه پروژه په عين حال کي دزده کړې دپروګرامونو درامنځته کولو له لارې، په ځانګړې توګه داوبو لګولو دبيارغونې دپروژو دتشخيص، طرحې، برابرولو او تطبيقولو په برخه کې دافغانستان داوبو اوبرېښنا وزارت دظرفيتونو په لوړولو کې ارزښتناکه ونډه ترسره کړې ده.

په افغانستان کې دسوداګرۍ په چاپېريال او شرايطو کې له ورځ په ورځ زياتيدونکي کړکيچ او وخامت سره سره، چې دغې هيواد ته دمستقيمې پانګې اچونې دراتګ مخه نيسي **<u>په افغانستان کې د پانګې اچونې د تضمين د اسانتيا اداره (AIGF)</u>** د له آسيايي بانک، دانګلستان دپرمختيايي پروګرامونو اداري او دنړيوال بانک د څوارخيزې پانګې اچونې د تضمين اداري په ګډو هڅو او هلو ځلو سره دافغانستان دبيارغونې په منظور په افغانستان کې دمستقيمې بهرنی پانګې اچونې هڅونه ده. تراوسه پورې دپانګه اچونې دتضمين داداري په واسطه شپږ تضمينونه دپنځو مراجعو له پاره دکرنې، مالي،درمل جوړولو، ساختماني او مخابراتو په سکتورونو کې صادر شوي دي. بهرنی پانګه اچونه په مجموعي ډول د نوموړي پروګرام تر پوښښ لاندې د ۱۰۷ميليونه ډالرو په شاوخوا کې وه، چې دهغې په نتيجه کې تقريباً ۷۳۰ نوي کارونه اوبو ختياوې رامينځته شوي دي.

**د زياتو معلوماتو د ترلاسه کولو له پاره له دی لاندی**
**اشخاصوسره تماس ونيسئ:**
**کابل: عبدالرووف ضياء**
**تيليفون ۰۷۰۰۲۸۰۸۰۰**
**ايميل:** <u>azia@worldbank.org</u>

واشنګتن کی: اريک نورا
تيليفون: ۲۰۲۴۵۸۴۷۳۵
ايميل: <u>enora@worldbank.org</u>